ما تاسو ته د دې لپاره قسم در نکړ چې زه په تاسو تور پورې کوم، خو جبریل راته راغی او خبر یې راکړ چې الله تعالی پر دوي د ملایکو په وړاندې فخر کوي

له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: معاویه جومات ته په داسې حال کې راووت چې یوې ډلې کړې جوړه کړې وه، نو ویې ویل: د څه لپاره ناست یاست؟ هغوی وویل: مور ناست یو، الله یادوو، هغه وویل: ستاسو دې په الله قسم وي چې لدې پرته بل کار نه یئ کښولي؟ هغوی وویل: قسم په الله چې لدې پرته بل کار نه یو کینولي، ویې ویل: ما تاسو ته د دې لپاره قسم در نکړ چې زه په تاسو تور پورې کوم، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرو کې د حدیثونو په روایت کې زما څخه لږ روایت کوونکی بل څوک نه و سره لدې چې زه ورته نږدې وم: رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ د أصحابو په یو ټولې راووت چې حلقه یې جوړه کړې وه نو ویې ویل: څه شي کښولي یاست؟ هغوی وویل: ناست یو الله یادوو او ستاینه یې کوو، د هغه څه له امله چې مور ته یې د اسلام لور ته هدایت کړی او پر مور یې لورینه کړې ده، هغه وویل: «ستاسو دې په الله قسم وي چې یوازې همدې کار کښولي یاست»، هغوی وویل: قسم په الله چې بل څه نه یو کینولي پرته له همدې خبرې، نو هغه وفرمایل: «ما تاسو ته د دې لپاره قسم در نکړ چې زه په تاسو تور پورې کوم، خو جبریل راته راغی او خبر یې راکړ چې الله تعالی پر دوي د ملایکو په وړاندې فخر کوي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

معاویه بن ابي سفیان رضي الله عنه په جومات کې یوې حلقې ته راووت، نو له هغوی نه یې پوښته وکړه چې د کوم کار لپاره سره راټول شوي دي، هغوی وویل: الله یادوو، نو هغه رضي الله عنه قسم ورکړ چې له ناستې او راټولېدو څخه یې موخه یوازې د الله یادول دي، نو هغوی ورته قسم وکړ، بیا یې ورته وویل: ما تاسو ته د دې لپاره قسم درنکړ چې زه پر تاسې تور پورې کوم او ستاسو په ریښتینولې کې شک کوم، بیا یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې د خپل مقام یادونه وکړه او دا چې لده نه ورته بل څوک نږدې نه و؛ ځکه چې خور یې ام حبیبة د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمن وه، او ځکه چې د وحي لیکونکی و، خو سره لدې یې بیا هم د حدیثونو روایت کم دی. نو ورته یې وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ له خپل کور څخه راووت، ویې لیدل چې دوی په جومات کې ناست دي الله یادوي او ستاینه یې کوي چې دوی ته یې د اسلام لورې ته هدایت کړی او دا لورینه یې پرې کړې ده، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورڅخه پوښتنه وکړه او قسم یې ورکړ لکه څنګه چې معاویه د خپلو ملګرو سره وکړل، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته د پوښتنې کولو او قسم ورکولو لامل بیان کړ چې: هغه ته جبریل علیه السلام راغی او خبر یې ورکړ چې الله تعالی پر دوی د خپلو پریښتو په وړاندې فخر کوي، او هغوی ته ستاسو فضیلت بیانوي او ستاسو ښه عمل ورښیي او د هغوی په وړاندې ستاسو ستاینه کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3007